# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم*



| Political | سیاسی |
|---|---|

انجنیرسید عبدالقادر
۰۷ اگست ۲۰۱۴

## د غزي تراډه د استعماري جګړي په وړاندي

## قهرماني غزي !

ســتاحـماسـي ســوي وجـهان ته پيـام ـــــ ټولـه نړي دي سـور مـيدان ولـيدي
دتسليـمي احـساس پـه تاکـي نسـته ـــــ ځـکه ځلـمو دي تـورزندان ولـيدي
ستا ماشومان سول په اوروکي ځلميان ـــــ نن دی غيرت ټولـه جـهان ولـيد ي
داستـعمار کړ ی به ژ ر ما تی کړی ـــــ په دي شکست کي دښمن ځان وليدي










دفلسطين د قهرمان ملت دتاريخ څخه به په دې لنده ليکنه کي تير سوو ،او يوازي به د۱۹۰۷ کال او په را وروستو کلونو کي د استعماري نړي ددوو چاروواکو د څرګندونو څخه ځو کرښي رانقل اوبسنه به په و کړو ۰په دی

کرښوکی  په ښکاره معلومیږي چی دپخوا څخه د غربي نړي مخي په  عربي نړي کي څه شي وی اوښه دي ۰ او ولي دڅو لسیزو راهیسي د دي منطقی  یو شمیر هیوادونه دغربی نړی دجنایاتو سره لاس او ګریوان دي ۰
په ۱۹۰۷ کال کي دبریتانیا صدراعظم ( سیرحینري کامپ بیل بانه مان ، ۱۹۰۵ ـ ۱۹۰۸  ) دعربي نړۍ دهیوادونو په هکله  دخپلي وینا په یوه برخه کي داسي ویلي دي : عربي ملت داسی  یوه پراخه مځکه په خپل لاس کي لري ، چی تر مځکي لاندي او سربیره دپراخو طبعي زیرمو لرونکي ده ،او دا مځکه دبشري مذهبونو او تمدن زانګو ده ۰ دا خلګ دیوه دین ، ژبي ، تاریخ او ارمان لرونکي دي ۰ هیڅ طبعي پیښی نه سي کولاي چی دا خلګ یو دبله جلا وساتي ،  که نابېره دا ملت یو دولت رامنځ ته کړي، په دې حالت کي به دټولي نړي برخه لیک  په خپل لاس کي واخلي، او اروپا به دنړي څخه جلا کړي ۰ نو ددې ملاحظاتو په نظرکي نیولو سره با ید په جد یت سره ددې ملت په زړه کي یو بهرني موجود رامنځ  ته کړو ، څو ددوي دمختلیفو برخو دهم پالي څخه مخ نیوي وسي ۰  هغه هم په دې ډول چی ددوي په منځ کي یوه دوامداره جګړه رامنځ ته، څوددوې قوت له منځه یوسي ۰ چی دا کار به دغربي نړۍ له پاره د خیز وهلودتختی په څیروی ، څو وخپلو مخو ته ورسیږي ۰اوهم داډول دامریکا یوه لو ړ پوړی چا رواکی  څولسیزی مخ کی  داسرایلی دولت دشتون په هکله ویلی وه ،چه اسرائیلی دولت زموز دپا ره یوه جنګی کښتی ده۰

دعثماني امپراتوري تر ړنګیدو وروسته دغربي نړۍ استعمارګر  هیوادونه په ځانګړي توګه بریتانیا  او فرانسه پردې باندي وتوانیدل چی په عربي نړي کي دخپلي نوي جغرافیایي نقشي سره سمی  منګولي ټینګي کړي ۰ چی په دې استعماري ویش کي دنوروهیوادوترځنګ  دفلسطین مځکه هم دبریتانیا ولاس ته ولویده ۰ او دڅو لسیزو په جریاکی د اسیاه او اروپا کي یوشمیر  نورپاشانده  یهودیان هم ددوی دتحریک له کبله دفلسطین په مځکه کي میشت سول۰استعمار ګرو  هیوادونووکړای سوای چه د ملګرو ملتونودلاری  دنومبرپر۲۹تمه په ۱۹۴۷ کال کي دفلسطین دخلګو درضایت څخه لیري  دفلسطین ۵۱ فیصده مځکه ویهودو ته په لاس ورکړی ۰ اوپه دی مځکه کی یی دوه دولته دیهودواوعربو د۳۳رایو موافقو ۱۳رایو مخا لیفو او۱۰رایومستنکیفو با ندی   تصویب  کړل  ۰چی په پایله کي دملګرو ملتونو دې دوکي دعربی نړی ولسونه په ځانګړي توګه  دفلسطین پاک ولس داور ولمبو ته ورټیله کړ ۰ چی اوسني اسرائیلي استعماري جګړه ددوي دپورتني استعماري مخو دتسلسل یوه بیلګه  ده ۰چه دڅولسیزوراهیسی دبریتانیادپخوانی صدراعظم پورتنی خبری دعمل جامه اغوستی ،اودعربی نړی په یو شمیرهیوادونوکی یی دبشری جنایا توڅخه ډک پوځی یرغلونه ترسره کړی،  اوپدی منطقه کی  خپلوشوممخوته درسیدوله پا ره خپله لاره وهی ۰ ددرولسیزوراهسی ،امریکااوغربی نړی ددی قهرمان ولس په وړاندی دنړی دولسونودتیروتولولپاره داسی شوم تبلیغات شروع کړی دی ،چه ګواکی دا خود حما س جنګ جویا ن دی چه پراسرائیلی خاوره باندی راکیټونه اوروی،اتش بس ما توی،اواسرائیل دخپل مشروع دفاع حق لری، چه د حماس په وړاند ی دخپلو خلګودفاع وکړی ۰په داسی حا ل کی چه دحماس دجنبیش جوړښت په۱۹۸۷کال په غزه کی میدان ته راووت۰ دفلسطین جګړی خوددوهمی لسیزی راهیسی کوم وخت چه بریتانیا دفلسطین مځکه ونیول اوداسرائیلودهیوادجوړیدوله پاره یی هلی ځلی شروع کړی ، چه په پایله کی داشغال په وړا ند ی دفلسطین دولس مقاومت  شروع سو و۰ د    ۱۹۶۸کا ل  څخه را په دی خوا ډیری کمی ورځی سته چه دصیهو نیستی رژیم له خوادی پردی بی د فاع ولس باندی هوایی بمبارد یا زرهی داروګولی نه وی اوریدلی ،شهیدان او زخمیان دی نه وی ورکړی ۰دلته به  دڅو خونړو جګړویوازی تاریخی یادونه وکړو، چه یوه دبریټا نیایی اشغالګرواویهودی مهاجروپه وړاندی چه دفلسطینیا نود بی ساری پاڅون په نا مه یادیږی د   ۱۹۳۶ کال څخه بیاتر   ۱۹۳۹کال

پوری یی ادا مه پیداکړل ۰ او نوری بیادصیهونیستی یرغلګرو په وړاندی چه د ۱۹۴۸ څخه بیاتر ۱۹۴۹کال پوری اوهم د۱۹۶۷کال شیږورځنی جګړه اود۲۰۱۲ کال جګړه ، چه په داټولوجګړو کی دفلسطین خاوره نوره هم کوچنی سو ی اوپه زرګونه فلسطنیا ن یی په شهادت رسولی اوډیریی مهاجرت ته اړکړی دی۰اوهیوادیی دخرابی سره ورمخامخ کړی دی ۰ او هم دارنګه د۲۰۰۸ ــ ۲۰۰۹ ) کال جګړی بیاد۱۴۰۰ شهیدانواو دیونیم میلیارد ایرودخساری ترڅنګ دصیهونیستی رژیم له خوا غزه هم تردایمی محاصری لاند ی راغلل۰ اوپه دی جګړه کی داسرئیلو یوازی ۱۳ سر با زان دمنځه تللی دی ۰دادی دملګروملتونودمنشوردمشروع دفاع حق چه دامریکااوغربی استعماری نړی له خواوصیهونیستی رژیم ته ورکول سو ی دی۰ اوداتوکلنو راهیسی ۱،۸ میلیونه فلسطینیان د غزی په نامه یوه سرخلاسی زندان کی شپی اوورځی تیروی ۰چه دمځکی،اوبو اوهوا ټولی لا ری یی پربندی کړی دی۰هرڅه په لړ ه پیما نه حتا غزایی مواد یی هم په ډیره لږ اندا زه دپیسو په مقا بل کی دصیهونیستی رژیم له لور ی ودی یر غمل ولس ته ورکول کیږی ۰داسرائیلوسره ترهرجنګ اومقاومت وروسته ددوی دپاکو اوبوسیستم هم تربمباردلا ندی نیول کیږی ،اودمنځه ځی۰چه داهم داسرائیلو ا ګا هانه او یوهد فمند کا ربلل کیدلایسی، ځکه چه دوی غواړی دنا پاکواوبو داستعما ل په نتیجه کی دفلسطینیانو په لسهاوزره ماشومان اولویان د ډول ډول مریضیوسره مخامخ کړی ۰دځینو سیاسی شننکوله نظره دغزی دخلکوپه ځانګړی توګه دحماس دمقاومت اورول سوی راکیټونه ، یوازی یوسیاسی پیام دی، چه نړیوالوته یی بیا نوی، اوورته په ګوته کوی یی ،چه تر یوی پیړی وروسته اوس هم مقا ومت په خپل طاقت باندی شتون لری اوبس ۰ اوسنی جګړه چه د۲۹ورځوراپه دی خوا داسرائیلی اشغالګروله خواد( اف ۱۶) جنګی الوتکو،زرهی دارټا نکونو ، توپونو اوبحری جنګی کښتیو یعنی دهوا،مځکی اومدیترانی دبحیری له لاری ددی بی سرپوښه زندان قهرمان ولس تربمباردونولاند ی نیول سوی او په داسی حا ل کی شپی اوورځی تیروی ،چه هره شپه اوورځ په لسګونه شهیدان اوشلګونه زخمیان دلاسه ورکوی ۰چه یواځی دتیری جمعی په ورځ اوشپه باندی یی تردی بهانی لاندی چه زموږ یوسربازدحماس ډلی نیولی دی،چه اوباما هم په جدیت دسالم تعقل څخه لیری بیله قید اوشرطه داسرائیلی سربازدخوشی کیدوغوښتنه وکړه،بان کی مون هم دحماس په وړاندی دامریکا دخوښی له پا ره خپله سیا سی توره پورته کړل اودسربازدایله کیدوغوښتنه وکړل۰پداسی حال کی چه داهیڅ واقعیت نه درلودی۰ولی صیهونیستی رژیم دغربی نړی ترحمایی لاندی په دغه شپه اوورځ باندی

دځینورسنیو په حواله (۲۰۰)کسان د فلسطینیانو شهیدان اوپه سلګونه نور یی ورزخمیان کړل۰ اوپه سلګونه کورونه یی په کنډواله وربدل کړل۰ولی ددی جنا یاتوپه وړاندی بیا ټولوچپتیااختیارکړل ۰دادی د غربی نړی دډیموکرسی اونړیوال کیدو تربیرغ لا ند ی قضاوت اوبشروژنه ۰ داسرائیلی سربازدوریکیدوتهمت هم هغسی تهمت وو، لکه چه هروخت صیهونیستا نوپرحما س با ندی تورلګوی چه په جنګ کی هروخت عام خلګ دځا ن سپر کوی ۰په داسی حال کی چه دتیری میاشتی په وروستیوکی په غزه کی دبی بی سی خبریال(چرا جر می بوین) له دی کبله په غزه کی دوظیفی څخه لیری سوو،چه ده په خپل را پورکی وویل،چه هیڅ داسی نښانی شتون نه لری ،چه هغه دی دلالت پردی وکړی چه ګواکی دحماس ډله دخلګوڅخه دیوه سپرپه توګه استفاده کوی۰وروسته معلومه سول چه دده داحقیقی راپور داسرائیلی چاړواکودسختت غبرګون سره مخا مخ سوو،داسرائیلی واکمنانودزورپه نتیجه کی ، دبی بی سی چا رواکودی دوظیفی څخه لیری کړ ۰ فلسطین ولس د۲۹ ورځو په دی نامتوازینه جګړه کی (دنړی شپږم پوځی طاقط دیوه سرخلاسی زندان دخلګوسره په دا سی یوه په جګړه کی اخته دی چه دنړی لویو قدرتونوخپله چپتیا اختیارکړیده ) ،چه په پا یله کی ۱۸۰۰ شهیدان ،چه ددی جملی څخه یی

یواځی ۳۰۰ ماشومان په شهاد ت رسیدلی او ترلسوزروډیر خلګ زخمیان سو ی دی ۰چه ددی شهیدانو اوزخمیانوځخه ۸۰ فیصده ملکی خلګ جوړه وی۰داسرائیلوپوځ بیا ۶۳ سربا زه او۴ ملکی کسان دلاسه ورکړید ی ۰داارقام په دا سی حال کی رسنیوته راوزی چه ډیریی دحقیقت ځخه ځکه لیری ښکاری۰ داځکه چه تراوسه دغزی خلګ پردی باندی نه دی توانیدلی چه دخرابولاندی انسانان راوباسی،اوبیایی ارقام درسنیومخ ته کښیږدی ۰دصیهونیستی یرغلګرویواځی دشپږویشتوورځوپه بمباردونوکی ۵۲۳۰ کورونه خراب سوی او ۳۰۰۵۰ کورونه نیمه خراب سوی اودبرق استیشن یی هم دمنځه وړی، چه دغزی خلګ یی دبرق دنعمت ځخه هم محروم کړیدی ۰اوهم دا رنګه دمکتبونو،کلینیکونو،کودکیستانونوتربمباردونوترځنګ دغزی اسلامی پوهنتون چه په ۱۹۷۸کال کی دفلسطینیانوله خواتاسیس سوی وو، او په اوس مها ل کی دغزی یواسلامی اوفرهنګی مرکزبلل کیدی، هم دصیهونیستی اشغا لګروله خوابمبارداوډیره برخه یی په خرابه بدله سوی ده ۰ چه دنړی دځینوبشردوستوټولنواوخلګوپه اند دغزی تراډه په اوس مهال کی دصیهونیستا نو له خواپه یوه انسانی کشتارګاه باندی تبدیله سوی ده۰ ولی دوی اونۍ مخ کی بیادامریکا دکانګریس غړو چه هروخت ځانونه دنړی دډیموکراسی مشعل داران بولی، درایوپه اتفاق یی داجګړه داسرائیلو مشروع دفاع حق وبلی۰او تیره اونۍ بیا دسل هاوومیلیونوډالرودکومک اعلان یی هم ورته وکړ۰اود صیهونیستی رژیم مشر چه دفلسطین دزرګونوماشومانو،ښځو،زړواوځوانانو یومعلومداره داسی قاتل دی ،چه په غزه کی یی حتا دملګروملتونوپه پناه ځا یونوکی چه عبارت دمکتبونواو کلینیکونوځخه وه هم په لسهاوو ښځی اوماشومان په شهادت رسولی دی۰صیهونیستی جنا یت کا رپه ددی حسا سوشیبوکی دامریکا د ملګرتیا ځخه مننه وکړه۰ اودبیګناه انسانانووژنی ته یی نوره په جرات سره ادامه ورکړل۰ دادی دیوه قطبی نړی دسالار دبشرپه وړاندی، دجنایاتو ځخه ډک قضاوت ۰ بله داستعما ری اشغالګرومهمه تبلیغا تی شیوه داده چه ځوځله یی پسله یوه لوی جنا یت ځخه د یوطرفه انسانی اتش بس اعلان هم کړیدی(کوم انسا نیت) اوغواړی ددی لاری نړیوال وغولوی، یعنی موږاشغاګراوجنګ جویه نه یواوټوله ملامتیا دحماس پرډلی ورواچوی ۰ اوغربی رسنۍ هم دعراق ،لیبیا اوافغا نستا ن په څیرغواړی د نړیوالو ځخه دامریکایی اوغربی نړی ترحمایی لاندی داسرائیلو ډیرجنایات پټ وساتی ۰ځکه نودوی اونۍ مخکی په لندن کی دبی بی سی د راډیوداستیشن مخ کی په زرګونوخلګومظاهره وکړه، اودبی بی سی یوطرفه تبلیغات چه دصیهو نیستانو په ګټه یی کوی اوحقیقی انځورنه نه ښکا ره کوی،ددوی داکړینی یی په کلکه وغندلی ۰په داسی حال کی چه ټوله نړی داد۲۱تمی پیړ ی دصیهونیستا نو تاریخی جناتو انځورونه دیوی اوبلی لاری پیداکوی، او په خپلوسترګوباندی وینی اومحکومه وی یی۰ځکه نودلاتینی امریکا ۵ هیوادونوداعتراض په ډول خپل سفیران داسرائیلو ځخه وغوښتل ،اواړیکی یی په تعویق کی واچولی ۰ ددوی دجنا یا تولړی دونه اوږده اودشرمه ډکه سول، چه داسرائیلولوی حامی فرانسی هم خپل غبرګون ښکا ره کړ، اودبهرنیوچاروزیریی وویل چه دا جګړه فقط دسیاسی لاری ځخه دحل امکان لری اوبس،چه هغه ددواړودولتونورسمی پیژندل دی۰ اوهم دارنګه دبریتا نیا دبهرنیوچارودوزارت مرستیا لی(بارونس سعیده وارثی« چه اصلا یوه پا کستا نی ده» ) دغزی په وړاندی دبریتا نیا پرسیاست دنیوکی له کبله یی دخپلی دندی استعفا وکړه ۰ایادا سی یوه نړیواله بیطرفه محکمه شتون لری چه دادزرګونوماشوما نو،ښځو،زړو،اوځوانانولوی قا تل محکمه کړی ؟ جواب یی منفی ځکه دی،چه نژدی ددومیلینو بی ګناه افغا نانواوعراقیانوقاتیلین(بوش اوبلیر) چامحکمه کړل ۰ ځکه دلیکنی په ورستۍ برخه کی بایدووایوچه دا داستعماری جنګونولړی به ترکومه روانه وی؟ګرچه ددی سوال جواب د سیا سی اواقتصادی پلوه په طبقاتی مبارزی پوری اړیکی پیداکوی ،ولی د ژراولنډمهال له پا ره ښه لاره داده، چه کیدلایسی په نړی

داستعماری جګړو څه نا څه مخنیوی وسی٠هغه دملګروملتونود تشکیل ،منشور،دغړودصلاحیتونوپرمساویانه ویش،اودایمی استوګنځی باندی د۲۱پیړی دغوښتونو په نظرکی نیولو سره دیوه نړیوال کنفرانس له لاری باید داسی هلی ځلی شروع سی٠داځکه چه دملګروملتونو جوړښت اودځینوهیوادونوصلاحیتونه ددوهمی نړیوالی جګړی دګټونکوله خوا وړاندی سوی اوددوی ترپوځی اغیزی لاندی تصویب سوی دی٠ځکه نو ددی کنفرانس دجوړیدوله پا ره باید یوتبلیغا تی کمپیا ین دمدنی ټولونو،سیاسی ګوندونوله خواپه نړیواله کچه کی داسی شروع سی، چه دملګروملتونوپه عمومی اسامبله کی هم انعکاس پیدا کړی٠ګرچه په اوس مهال کی دا وړاندیز ډیروته یوناشونی کاربښکاری٠ ولی ددی کارشروع دنړی ولسونوته دډیراهمیت وړځکه دی ،چه دنړ ی دنا ارامیو یوشمیر اصلی عاملین دامنیت دشورا غړی دی٠

مآخذ. العربیه ویب پانه

کون ترپنچ انګلیسی ویب پاڼه

ویکی پدیا ویب پانه او محیط بارنامه

تمت بالخیر

۶/ ۸ / ۲۰۱۴